٢: دَ پنجاب سیمه دریابي جهلم نه تر دریابي چنا
مېدانی وه او دَ غشی تورې په زمانه جنګ آبادیه
او ښارونه دَ غرونو په سر یا خوا کښې جوړېدل.

٣: دَ پنجاب مېدانی سیمې دَ هند په لار پرتې وې او
هره لمحه بهرنی پوځونه فتوحونو پائمال کولې.

٤: دَ پنجاب سیمه دَ زیات سېلابونو په سبب
غېرآباده او ځنګل وه.

٥: دَ موجوده افغانستان نه دَ بنوں، کومل او بولان
په لار "ملتان" دَ تجارتی کاروان پړاو او منزل وو. او
دغه ځائې نه دَ سند هـ په لار هندوستان ته
تګ راتګ او تجارت عام وو.

٦: دَ خیبر او کرم په لار "لاهور" هندوستان ته
دَ آمدورفت پړاو او منزل وو.

٧: دَ ملتان او لاهور حیثیت محض دَ یو بانډې
او کاروان سرائې وو. او دَ هند سرحدات سرهند
نه شروع کېدل.

دَ تاریخ لوستونکو ته څرګندېږي چې دَ غرونو
دَ پښتنوالي یا زیات سېلابونو په سبب دَ
دریابي جهلم (دَ رِګ وېد "تاستنا") او دریابي
راوي (دَ رِګ وېد "پاروسني = پوروشني، پوښني)

خلاف فوج کشي وکړه. دَ سِکهاو مسلمان ترمینځ څو جنګونه وُشول. ۱۷۰۱ء کښې دَ آنند پور او مکهوال په جنګ کښې سکهانو شکست وُخوړو او دَ ۱۷۰۳ء دَ چمکور په جنګ کښې دَ دهٔ دوه زامن اجیت سنګه او جو هر سنګه قتل شول.

ګورو ګوبند سنګه دَ چمکور قلعه نه دَ لباس په تبدیلۍ فرار شو. دَ دهٔ دوه نور پاتې زامن فتح سنګه او زوراور سنګه دَ سرهند په مقام ګرفتار شول او دُ ترقندی په دیوال کښې تپو مبلی قتل شول.

ګورو ګوبند سنګه دَ چمکور نه په تېښته بهلول پور ضلع لدهیانه ته راتلو چې د وه پښتنو غنی خان او نبی خان لار کښې ونیوو. دَ انعام په خاطر یې وزیرخان ته روان کړو. نو په دېرمنت زارۍ یې دَ هغوئ زړونه نرم کړل او دے یې پرېښودو.

ګورو ګوبند سنګه چې لدهیانه ته راورسېد نو دلته یې نیل دَ فارسۍ اُستاد پیر محمد څخه پناه واخسته نو دَ مُغل حکومت واکدارانو ته دَ دهٔ دَ پناهۍ پته وُلګېده. څو ګورو ګوبند سنګه دېر چالاک او مکار وو. هغهٔ دَ مسلمان "حاجی" شکل او روپ اختیار کړو. دَ غلته آبادو پښتنو پرې دوکه وُخوړه او دَ دهٔ یې هر قسم مالی امداد او تحفظ وُکړو.

---

سلم چادو ناتهه سرکار جلد اول صکا۸.

دَ لَدهیانه نه بټهنډه ته اَو بیا فیروزپور ته راغلو. دلته دَ سکهه مذهب عقیدتمند ورته راغونډ شول. خو دَ سرهند مُغل کورنر مُسلسل دَ دهٔ په تلاش وو. دې ځائې نه مالوه ته فرار شو او دَ غلته یې دَ سکون نه وند اختیار کړو. څو ټمهٔ مُوده پس بېرته دَ سرهند په لار انندپور ته راغلو. مُغل څخه یې تعلقات سَم شول او دَهغوئ فرمانبردار شو. اورنګ زیب ځائے دکن ته راغوښتو. او دَ خیرسګالئ دَ جذبې تحت شهٔ په شوق دکن ته روان شو. خو لا په لار وو چې دَ اورنګ زیب دَ وفات خبر را ورسید و. بیرته راستون شو. او چې دَ دهلی په لار واپس وطن ته راتلو نو شهزاده محمّد معظم شاه څخه یې ملاقات وشو او دَ هغهٔ مرستیال شو. محمّد معظم شاه بهادر شاه چې دَ خپل بادشاهت دوران دَ کام بخش خلاف په مهم وو. نو ګورو ګوبند سنګهه هُم ورځخه دَ دکن په مهم شامل وو خو هلته دَ شاهی لښکر نه بیل شو او باقی پاتې ژوند یې دکن کښې دَ "ناندیر" په مقام په اُمن و سکون تیر کړو.

دَ دکن دَ قیام دوران په ۷ نومبر ۱۷۰۸ع / ۱۱۲۰ھ دَیو پښتون جمشید خان دَ لاسه قتل شو. دَ جا پلار چې دهٔ شهید کړے وو. او هغهٔ ترې دَ خپل پلار بدل واخستو.

مؤرخینې دَ دهٔ دَ قتل مختلف قسم روایات تحریر کړي

څو وار د سکهه خلاف پنجاب ته راغلل. خو دوئی د واړو
د پنجاب په سیمه امن وامان قایم نه کړے شو. اخیر
کار د سکهه یوه ډلے بهنگی والا د لاهور په قبضه کامیاب
شول او ۱۷۹۹ء پورې دوئی د لاهور حاکمان وو. چې
هُم په دغه کال د سکرچکیه د ډلې مشر سردار رنجیت
سنگهه د کهنیه د ډلې په امداد لاهور قبضه کړو او د
بهنگیانو واک اختیار گجرات څخه محدود شو چې
وروستو رنجیت سنگهه دغلته هم د دوئی اقتدار ختم کړو
وائی چې رنجیت سنگهه څخه د لاهور په قبضه کښې
د باغبانپورې میاں کانو د بهنگی سردارانو خلاف
مرسته وکړه او د دې خاندان میاں محمد شفیع
میاں شاه دین او د مسلم لیگ شهرت یافته ښځې
بیگم شهنواز وروستو په لاهور کښ انگریز د حکومت
په قیام کښې هم ډیر امداد وکړو.

---

۱ احمد شاه ابدالی از گنڈا سنگهه ص ۲۹۸

ځنګل ته فرار شو او غرونو کښې پټ شو. شاه زمان د
مرزا محمود د په هرات د حملې په خبر ډېر په تېزۍ کابل ته
روان وو چې د دریائې چناب ته راورسېد و نو د غلته
د دریاب سیلاب په وجه د ده ټوټو پې ډوبې شوې
خو د وخت د کمې په سبب هغه ته د دغه توپو راوښکل
مشکل وو او دغه کار یې بلې موقعې ته پرېښودو.
رنجیت سنګه او د هغه سکه ملګرو چې خپل کمین ګاه ته
راووتل. نو د شاه زمان د توپو ډوبېدو په واقعه
خبر شول. هغه دغه توپې د دریاب نه راښکاره کړې او
شاه زمان ته یې ولېږلې. شاه زمان د رنجیت سنګه
په دې کار ډېر خوشحال شو. چې هغه یې د لاهور
حاکم مقرر کړو. خو رنجیت سنګه د پاره د لاهور حاکمیت
تخت آسان کار نه وو. ځکه چې لاهور او نوره پیوست علاقه
د تیمور شاه د زمانې راسې علاقه د درې بهنګی سردارانو
ګوجر سنګه، لهنه سنګه او سوبه سنګه تخت وه او دې
وار هم چې شاه زمان کابل ته واپس شو. نو دغه درې
سکه سرداران نو زامن صاحب سنګه ولد ګوجر سنګه
جیت سنګه ولد لهنه سنګه او مهر سنګه ولد سوبه سنګه
په لاهور قابض شول.
رنجیت سنګه پېنځویشت زره سکه لښکر تخت ګوجرانوالا

ته لاهور پلو روان شو. د لاهور مسلمانانو یې د شاه زمان د فرمان په وجه جاني او مالي امداد وکړو او د مسلمان رعایا خصوصاً د مهر محکم الدین په امداد او کومک جولائي ۱۷۹۹ء کښې په لاهور قابض شو او بهنګي سرداران فرار شول. د لاهور قبضه د رنجیت سنګه د آئنده فتوحاتو پیش خیمه ثابت شوه. ۱۸۰۱ء کښې یې سیالکوټ قبضه کړو او د جموں راجه یې په اطاعت منلو مجبور کړو د ګجرات بهنګي سرداریې هم اطاعت ومنلو او دې نه پس یې اکال ګړه هم خپل سلطنت کښې شامل کړو. اپریل ۱۸۰۱ء کښې رنجیت سنګه ځان د پنجاب مهاراجه اعلان کړو.

اپریل ۱۸۰۱ء کښې رنجیت سنګه په قصور حمله وکړه د پنجاب په سیمه قصور د پښتنو یو مضبوط ګړه وو. د قصور پښتون سردار نظام الدین خان یې زبردست مزاحمت وکړو. خو شکست یې وخوړو او په اطاعت منلو مجبور شو. د نظام الدین افغان په دې حرکت د قصور پښتانه خفه شول او د هغه خلاف راپورته شول. نظام الدین افغان یې قتل کړو او د هغه زوئې قطب الدین افغان یې د قصور حکمران مقرر کړو د قطب الدین افغان او رنجیت سنګه ترمینځ فروري ۱۸۰۷ء

مخلص مرستیال حساب وو"

مهاراجه رنجیت سنګه په ۲۷ جون ۱۸۳۹ء مړ شو
د هغهٔ د وصیت مطابق د هغهٔ مشر ولیعهد زوئ کهړک سنګه
مهاراجه او سردار دهیان سنګه وزیراعظم اعلان شو. خو
مهاراجه کهړک سنګه د خپل پلار د وصیت برعکس خپل یو
ښهٔ دوست چیت سنګه وزیراعظم مقرر کړو. د کهړک سنګه
دې عمل د خالصه دربار خاص افسران لکه سندهیانواله
سرداران، دهیان سنګه، ګلاب سنګه او سچیت سنګه خفه او
ناراضی شول. او د کهړک سنګه خلاف یې سازشونه
شروع کړل. کهړک سنګه بیمار او رنځور وو. نو په دې
وجه سندهیانواله سرداران د کهړک سنګه معزولی
او د هغهٔ د اتلس کلن زوئ نونهال سنګه په ۸ اکتوبر
۱۸۳۹ء د بادشاهۍ په اعلان کامیاب شول. سردار دهیان
سنګه وزیراعظم مقرر شو او د کهړک سنګه دوست او
وزیراعظم چیت سنګه په ۱۸ اکتوبر ۱۸۳۹ء قتل شو.

۵ نومبر ۱۸۴۰ء ووچې کهړک سنګه مړ شو. نونهال سنګه
د هغهٔ کریاکرم (رسم تجهیز و تکفین) ښهٔ شان شوکت
څخه وکړو. خو هغه د غه ورځ چې کریاکرم نه واپس راتلو

---

The Evolution of N.W.F.P- P.30

نو دَ بیونروریبوسیده کورد دیوال پهٔ دهٔ را پریوتو.
اؤدے هُم په دغه ورځ مړشو.

سردار دهیان سنګه وزیراعظم سکه سُلطنت دَ کهړک سنګه نیمګړه او دَ نونهال سِنګه مور رانی چاندکور تخت نشین کړه. نو دَ خالصه دربار سرداران په دې متفق شول چې دَ رنجیت سِنګه دوئیم زوئې مهاراجه مقرر کړی. هغوئې پتهالمه نه شهزاده شیرسنګه راوُغوښتو او په ۱۸ ر جنوری ۱۸۴۱ء شیرسِنګه دَ سِکه سُلطنت مهاراجه اعلان شو او رانی چاندکور دَ یو لوییې جاګیر په بخشیش اُمورِ سُلطنت نه دستبردار شو.

دَ سُلطنت په اهمو عُهدو کښې مُسلسل تبدیلیوانو په سِکه لښکرونو خت زیات پریوت. دَ سِکه بې سره سنګر کښې دَ بغاوت رجحاناتو تقویت بیا موندلو او سِکه فوج شاهی شروع شوه خپله من مانئی ییې آغاز کړه خپل یورپې اَفسران یې قتل کړل څوک چې دَ پښتنو قاتل او دَ پلینبوژکورنر او پطوبطه دیوپه کرانه جلال آباد نه فرار شو. دَ مال دولت په حرص او لالچ دیر سرداران قتل شول. ملک کښې اَفرا تفری شوه او اخیرکار په ۱۵ ر ستمبر ۱۸۴۳ء مهاراجه شیر سِنګه او وزیراعظم دهیان سِنګهٔ هُم قتل شول.

د سردار دهیان سنگه په قتل د هغه زوئي هیرا سنگه
راپاسید و. لاهور یې محاصره کړو. د فوج باغي سرداران
لهنه سنگه او اجیت سنگه یې قتل کړل او په ۱۸ ستمبر
۱۸۴۳ یې د رنجیت سنگه شپږ کلن زوئي دلیپ سنگه
مهاراجه اعلان کړو او ځپله وزیر اعظم شو. خو
هیرا سنگه ولد دهیان سنگه د خپل فوج په حمایت ظلم
وتشدد آغاز کړو او د سردار گلاب سنگه په وساطت
یې د رنجیت سنگه یو بل زوئي کشمیرا سنگه قتل
کړو. د هیرا سنگه په دې ناز یبا حرکات عوام بدظن
او متنفر شول او د ده خلاف راپورته شول. هیرا سنگه
چې حالات خپل خلاف ولیدل. نو مال و دولت یې
راغونډ کړو او فرار شو. خو د مهاراجه دلیپ سنگه
ماما جواهر سنگه یې تعاقب وکړو هغه یې گرفتار
کړو او په ۲۱ ستمبر ۱۸۴۴ یې قتل کړو. او
جواهر سنگه خپل ځان وزیر اعظم اعلان کړو. هغه د راجه
گلاب سنگه ناظم کشمیر خلاف فوج کشی وکړه. خو
گلاب سنگه معافي وغوښته او اطاعت یې قبول کړو
گلاب سنگه د کشمیر نظامت نه معزول شو او شیخ
امام الدین حاکم کشمیر مقرر شو.

د مهاراجه دلیپ سنگه معصومانه قیادت او د هغه

غلامان د علاؤالدین خلجي په انتظامۍ ډهانچه تغلق او سادات د بهلول لودي او سکندر لودي په انتظامي بندوبست باندې برو همایون او د شیر شاه سوري په انتظامي کارگزارۍ مغل ټول حکومتونه قایم و دایم کړل نو بل پلو د دوی د زوال سبب د دغه اوصافو ضعف او کمزوري نه ده بلکه د دغه تورځوان بهادر پښتون واک اختیار او مشري د ځه داسې بزدل او پست ذهن لالچي سرداران تر لاس شوه چې د دوی وقار، عزت او ننگ ناموس یې پائمال کړو. او آخرکار آزاد طبع حریت پسند پښتون د سکهاو او انگریز غلام شو او هغه قوم چې نوم نه یې دنیا لرزېده د ټول نوم نه متنفر او بیزاره شو۔

د دنیا په ځینې ځو مره جمهوري حکومتونه قایم دي۔ دغه جمهوریتي نظام نه ډېر اکاهو د پښتنو هر بادشاهت د جمهوریت په ځانه ولاړ حکومت وو. د یو قبیلې خلق به راغونډ شول. ټول یو مشر به یې مقرر کړو. بیا د مختلف قبیلو دغه نمائنده مشران به جرگه شول او چې دغه نمائنده قبیلوي مشرانو به کوم کس خوښ کړو. د هغه تخت به جنگېدل. او د جنگ په میدان کامیابۍ او کامرانۍ نه وروستو به دغه مشر بادشاه شو. د پښتون قوم د نابیکلي دستور "پښتو" په نزد "بادشاه" محض یو آئیني صدر وو

بهلول لودي (۱۴۵۱ تا ۱۴۸۹ ع) پښتانه سرداران خپل ملګري ګڼل. هغوی تخت ته پوځای لاندې په ځمکه کښېناستو، پوځای به یې ورڅخه لوړه نه خوړله. د نورو پښتنو مشرانو دا سوبو نه یه د هغه اس سپه نه وو چې کوم پښتون سردار به خفه شو د هغه کور ته به ورغلو پښکې او تنوره به یې د هغه مخکینې کېښوده او ورته به یې ووې چې

«مانه که بل څوک دې ذمه واری د پاچاهۍ سپارنه شي نه سپارلای هغه چون کړئ او ما ته یله ذمه واری راکړئ.»

«اګر لائق نمیدانید - این کار دیګرا اختیار بکند و مارا کار دیګر فرمائید.»

هسټري آف دی افغانز اِن انډیا

ازعبدالرحیم ص ۵۲.

سکندر لودهي (۱۴۸۹ تا ۱۵۱۷ ع) د پښتنو سردارانو په موجودګۍ کښې په تخت نه کښېناستو. هر پښتون سردار ته به احتراماً د اس نه کوزېدو.

«برنیر»، چې د اوولسمې صدۍ منځومانه موده کښې هندوستان ته راغلې وو. هغه د پښتنو متعلق لیکي ؛

«د پښتون قوم د هر معمولي ادنی خلق او عن چې د دوئ ماشکیان او

د سدوزی د اقتدار په خاتمه بارک زی وروڼه د مختلف علاقو حاکمان شول. محمد عظیم خان د کابل، دوست محمد خان د غزنی، پوردل خان د قندهار، جبار خان د کشمیر او یار محمد خان د پېښور حاکم شو. او دغسې دا ټوله علاقه د یو بادشاه تحت نه وه بلکه د برابرۍ په بنیاد د بارک زی سردارانو تحت شوه.

## رنجیت سنګه او پېښور

د رنجیت سنګه د سدوزی او بارکزی نو منځ د اقتدار جنګ او د بارک زی سردارانو د منښتو. او کمزوړ قوت نه فائده پوره کړه. هغه اکتوبر ۱۸۱۸ء کښې حضرو ته راورسېده او یوه سِکه دسته يې دریائې سِنده نه راپورې د باوا پهدّی تحت د حالات د جائزې اخستو په غرض راولېږله. خو دلته د فیروز خان خټک، نجیب الله خان او حاجي الٰهی خان تحت د پښتنو د اووه زره لښکر د لاسه دغه سِکه دسته قتل شوه. صرف څو کسان بچ واپس پورې وتل او مهاراجه يې ټول حالات نه خبر کړو. هغه سخت غضبناک شو. او خپل ټول لښکر څخه دریائې سِنده نه راپورې وتو. د پښتنو کم تعداد لښکر يې مزاحمت وکړو. خو شکست يې وخوړو او رنجیت سنګه په خیرآباد او جهانګیرې قابض شو. دلته د دیوان

دَ ستور دے چې دَ جنګ دوران کۀ حمله کامیابه وی نو په دُښمنی ښۀ په نوره ورځی اوکۀ داسې نۀ وی نو بیا د پښتنو ښځه ټبرته جار وځی. راجه وئیل چې دوئی ټکړ دی دوئی پیښور ته ځی نو ددې نه ما او فتح خان دَ سکو ترمنځه جنګ کښې ما په فوځی دسته د پوپه تنری ښځه حمله وکړه چې نه ما خلقو نوم سلحه واخلی. حقیقت دا دے چې دوئی د پُوپه نې رحمی ښځه تورې وهی او یقینی لری چې سِکها نو ښځه جنګ کښې مړینه جنت ته تللی دی۔"

ګوپال داس دَ بیرسباک په مقام دَ پهولا سِنګهه دَ سمادی په حقله لیکی:

"ہر سال میں دو دفعہ یہاں میلہ ہوتا ہے۔ ایک پہلی ماہ بساکھ کو میلہ لگتا ہے دوسرا دوسہڑ میں آدمی قرب وجوار کے جمع ہوتے ہیں۔ کوئی انتظام پولیس کا نہیں ہوتا اور نہ کچھ آمدنی ہوتی ہے۔ نام متولی گدی نشین جود سنگھ ہے۔"[1]

---

[1] تاریخ ضلع پشاور ګوپال داس ص ۳۶۹

یې رنجیت سنګهه ته نه حواله کوله. دا هغه لېلی ده چې دوی به په عوض سلطان محمد خان د پېښور نظامت دوباره حاصل کړو.

## د شاه شجاع یو ناکام کوشش

جنوری ۱۸۳۳ء وو چې شاه شجاع یو ځل بیا د تخت افغانستان بېرته قبضې اراده وکړه. سنده ته ورسېد او دلته جنوری ۱۸۳۴ء کښې د بلوچ نژاد امیرانِ سنده لښکر څخه جنګ وشو. خو د امیرانِ سنده یو لوی لښکر د شاه شجاع د یو رسېدو په طرز پوهې ورکوټی جنګجو لښکر ته شکست ورکړو. امیرانِ سنده کافی خراج ادا کړو. او شاه شجاع دوه ورپسې تر ره لښکر څخه قندهار محاصره کړو. بیا تنوشاه شجاع څخه جنګ کول نه غوښتل خو بقول کهتیه لعل:

"دوست محمد خان د خواست او دورانديشی نه کار واخېستو. مشهوره یې کړه چې شاه شجاع د انګرېز په علت او سازش د کابل تخت قبضه کول او کوی چې ځای مسلمانان عیسائی کول غواړی په دې اساس د هغه خلاف جنګ عینې جهاد دے او د دینِ اسلام په حمایت کښې داخل دے."[۱]

---

[۱] تاریخ پنجاب صفحه ۳۷۸

سردار ہری سنگھ نلوہ سپہ سالار حاکم ضلع پشاور رہے
اور پھر ۱۸۳۷ء میں راجہ تیجا سنگھ حاکم رہا۔ اور پھر شروع
۱۸۳۸ء تا ۱۸۴۲ء ابی طویلہ صاحب حاکم و ناظم رہا۔
۱۸۴۳ء تا ۱۸۴۵ء پھر راجہ تیجا سنگھ حاکم رہا اور ۱۸۴۶ء
تا ۱۸۴۹ء سردار شیر سنگھ ولد چتر سنگھ اٹاری وال کی
حکومت رہی۔ ۱۸۴۹ء میں عملداری انگریزی ہوئی [1]

دسمبر ۱۸۴۸ء ووچې سردار شېر سنګه ولد چتر سنګه د انګرېز خلاف په جنګ وو. دوست محمد خان پېښور ته راورسېده او تر دریائې سنده ورسېدو. سکهانو خخه ئې د انګرېز برخلاف د خپل امداد معاهده وکړه. د شېر سنګه او د نوجوان اکرم خان پسر امیر دوست محمد خان پېنځه زره امدادي پښتون لښکر په ۲۷ فروري ۱۸۴۹ء د ګجرات په مقام شکست وخوړو. امیر دوست محمد خان را وتښتېدو. انګرېزئې تر اټک تعاقب وکړو خو پښتنو اټک په مقام تهولې کښتې وسوزولې او دوئ په شړه د خیبر په لار کابل ته لاړل او پېښور ئې انګرېز ته خوشې پرېښودو. وائي چې امیر دوست محمد خان که په دغه موقعه د ګزاستنه کار اخستے وے. محض تماشبین پاتې وے او د سکه په شکست سره دوباره په دې علاقه قابض وے نو شاید چې انګرېز

---

[1] تاریخ ضلع پشاور صـ۳۷۵

# سیّد احمد شهید بریلوی

تا سو گورئ چې ۱۸۰۳ء کښې انګریز په دهلی قابض شو او تر دریائ جمنا پورې د سلطنت واک اختیار داؤ رسید و. د دریائ جهلم او د دریائ ستلج ترمینځ سکهان قابض شول. د دریائ جهلم او دریائ سِنده ترمینځ په ټوله علاقه شاهِ کابل قابض وو او د دریائ جهلم نه پورته علاقه د شاهِ افغانستان ملکیت وو. او د سِنده په سیمه د شاهِ افغانستان له اړخه مختلف بلوچ امیران قابض وو. خو وروستو نه یوازې داچې رنجیت سنګه د دریائ جهلم او دریائ سِنده ترمینځ په ټوله علاقه قابض شو بلکه هغه د جمرود تر غرونو داؤ رسید و او د پښتنو ګرځه پېښوړئ هم قبضه کړو. د روهیلکنډ په سیمه آباد روهیله پښتنو چې د پاک و هند د مسلمانانو حالت زارنه خبر شول. نو هغوئ د پښتنو د عظمتِ رفته او د پاک و هند د اسلامی حکومت

نو سید احمد بریلوی څخه یې د مشترکه مزاحمت فیصله وکړه۔ خو هرکله چې "د اکوړې" په مقام د فریقینو ترمینځ په ۲۰ د سمبر ۱۸۲۶ء جنګ وشو نو عین په موقعه "یار محمد خان" "یارو سنګه" تابت شو او وتښتېد و۔ سید احمد بریلوی چې د یار محمد خان دا حرکت ولید و نو حیران شو او هغه هم په شا شو او بیا هم سنګه پېښور ته را ورسید و۔

"د اکوړې د جنګ نه پس سکهانو پېښور ته راغلل او په بالا حصار کښې د شاه شجاع د وخت ښکلې ښکلې محلونه او د ښار نه چاپېره رخصوصًا د بهادرکلی د شفتالانو او د شیخ محمدی د انګورو) باغونه یې د خشاک د لرګو دپاره تباه و برباد کړل او په یار محمد خان یې خراج هم زیات کړو"[1]

وائي چې رنجیت سنګه په اکتر و یئل: چې

"یار محمد خان یو بې وفا انسان دے۔ ما څخه یې هیڅ بې هیڅه معاهده ماته کړه په اکوړې یې حمله وکړه او سردار عباس خان یې ځان څخه پېښور ته قید ی بو تلو چې هغه یې هلته په زهرو مړ کړو۔ ماته د هغه زوئې نواب خان

---

[1] د پښتنو تاریخ جلد اول قاضی عطاء الله خان مرحوم ص ۲۷۶

نمودار شو. بیا څه وو. پښتانه ډلې ډلې د دوی مرستیال شول. یار محمد خان هم د یو خاص سازش تحت دوی څخه منکر شو. د جهاد په جوش مست پښتانه زلمي د اکوړې د سید ترمنځ د سکه سردار بده سنګه خلاف د اوسپنې دېوال شول. خو عین په دغه موقعه یار محمد خان فرار شو. د جوشیله مجاهدینو پښې وښويدې او سکه دسمبر ۱۸۲۶ء کښې بیا پېښور قبضه کړو.

سید احمد بریلوي د اکوړې د جنګ نه وروستو د جوش په ځای د هوش لاره اختیار کړه. غیر منظم مجاهدین یې منظم کړل او ټولو پښتنو قبیلو ته یې د جهاد دعوت ورکړو. د هغوی د جهاد په دعوت چې ټولو نه وړومبې چا لبیک وویل هغه د خلیل مومند دوه مخور سرداران د تهکال ارباب بهرام خان او د هزارخانې فیض الله خان مومند وو څوک چې د اسلام او پښتونولۍ په ننګ و نام شهیدان شول.

مړه هغه چې نه یې نوم نه یې نښان شته
تل ترتله په ښه نوم پاییږي ښه غلي

فیض الله خان مومند د پېښور څخه جنوب ته د هزارخانې نومي کلي اوسېدونکی وو او د دغه زمانه د لوی اثر رسوخ او شهرت خاوند وو او ټول مومند د هغه نه براتر وو. هغه سن سید

محترم شخصیت وو. او تهوله مومند نامه کښې د "کاکا" په نوم مشهور
وو. د فیض الله خان مومند که بیا هم بارکزي سردارانو
څخه زاړه تعلقات وو نو بیا هم اوس هغه د سید احمد
بریلوي مرید او غازي وو. د منافقت و چلول سیاست
یې زده نه وو. د انسانیت او سرتیوب یو مجسم شکل
وو. ۱۸۱۸ء کښې چې سکهان په پېښور قابض شول.
او یار محمد خان هشتنګر پلو وتښتېد وا او رنجیت سنګه د
خلیل مومند کلي لوټ تالان کړل. نو فیض الله خان مومند
څخه احساس پیدا شو چې اوس سکه لښکر نه د پېښور تحفظ
مشکل دے. هغه شمشتو څخه جوخت د غرونو خوا کښې
د خپل آل وعیال د حفاظت په غرض یوه قلعه تعمیر
کړه. د دې قلعه کنډرات اوس هم موجود دي. خو اوس
دیا ځایې نتهک قابض دی. د دې قلعه په طرز یا ورو نور ستوی سکه قلعې جوړو تعمیر کړې دي.

## سید احمد بریلوي د اکوړې شهید و د شکست

او د یار محمد خان د غدارۍ په سبب د بارکزي سرداران
مخالف شو. یار محمد خان د سید احمد بریلوي څخه جنګ
کښې قتل شو او سید احمد بریلوي کهسوابي مردان او
هشتنګر په علاقه قابض شو او چارسدې نه خپل شپږ
زره لښکر څخه میچنۍ ته وا ورسېد و. هغه ورځو کښې د
میچنۍ آبادي په څو جونګړو مشتمل وه او هرکس څاتله

تاریخ ضلع پشاور ص ۶۳۸

هیڅ معنی او حقیقت نهٔ لری. فیض الله خان مومند د هری سنګه د حاکم پښاور تقرری نهٔ ګماهو شهید وو. البته امان الله خان د سکه سرکار په عهد د مومند قوم جاګیردار وو.

---

## د ارباب فیض الله خان هزارخانی د اسلافو او اخلافو

# شجرهٔ نسب

نقل کیفیت از شجرهٔ حقیقت ۱۸۷۰ء موضع کوهی فیض الله خان تحصیل نوښهره ص $\frac{827}{828}$ او ذاتی معلومات

- اوتمان خان
  - هزار خان
    - سرو خان
      - نبی خان
        - بهادر خان
          - شهباز خان
            - ارباب محمد اسلم خان
              - سرفراز خان
              - ارباب محمد اکرم خان
                - ارباب فیض الله خان شهادت ۱۸۳۱ء
                  - ارباب فتح خان
                    - ارسلا خان
                    - ارباب کبر خان
                    - نصرالله خان
                - عظیم الله خان
                  - بنو خان
                - امان الله خان
                  - نعیم خان
                  - شاد محمد خان
              - مهمند
                - قمرالدین خان
  - بهادر خان

دربار له ورغے خبره کړه د نشخوره
کوم خوا به خلاص شي له ماه ته تبنته تر بوره
پیر محمد خان ورته منګل ایښې کړه په ټوره
د بارک زو به دام کښې ونښتي هوښیاره
په خزان توئې شوې د تمام مومند سرداره
د بېلا نو سترګې سرې شوې له خماره

---

په دام کښې ونښتي چاپېر ناري سوري شوي
بیایه دانه شي مخکښې پېرې نندارې شوي
شهید له جوړې په جنت کښې مناري شوي
زاړې رحیم[2] مغرور د شاه د غاړې هاره
په خزان توئې شوې د تمام مومند سرداره
د بېلا نو سترګې سرې شوې له خماره

---

ورپسې زاړې فتح[3] خان دُر د صدف دے
لکه آفتاب هسې ښکاره په هر طرف دے

---

[1] له د سلطان محمد خان او یار محمد خان بارکزي ورور۔
[2] له دارمستېمرې د سیّد احمد زوئې ښائې۔
[3] له دارمستېمرې د پنجتار خان ښائې۔

په سخاوت په عبادت کښې مشرف دے
په خوئ خوش بویه په څې گل عطاره
په خزان توئ شوې د تمام مومند سرداره
د بلبلانو سترگې سرې شوې له خماره

---

خوشحالي لاړه پېښور کښې ظلم ډېر شو
گل د نمیر فیض الله خان په زمکه زېر شو
په درست مومند کښې رڼا نشته مترې اور شو
قتال دې جور کړو نه وېرېږي له ازاره
په خزان توئ شوې د تمام مومند سرداره
د بلبلانو سترگې سرې شوې له خماره

---

زه نور دین اول صفت د کوم نواب کړم
د پېښور خانان به تول درته حساب کړم
که د ښکاره د نسیم خان عباس[له] کتاب کړم
ارمان ارمان د فیض الله خان د پگړې واره
په خزان توئ شوې د تمام مومند سرداره
د بلبلانو سترگې سرې شوې له خماره

---

له د کافي کوشش باوجود د نسیم خان عباسي د دې کتاب هېڅ درک او پته نه لگي د دوؤنو موږنو امتزاج هم یې د غه مانه څه عجیبه ښکاري د پښتو د شعرونو د شعر او ادب د پاره د دې کتاب لوئې اهمیت دے۔

دَ مغرب لـه لوریه دَ جملـه کوُنکو په هندوستان دَحملي اولنۍ پړاؤ او منزل وو.

داځاۍ کله دَ سیتهین، ساکا، ایښـومن او یونانیانو ماتحت وَه. کله آزاده وه اوکله دَ یوچي کُشن، کیدارکشن، هُن او ساساني بادشاهانو ماتحت عـلاقه وَه. دَ اِسلام دَ راتګ نه آګاهو دَ پښتونخوا سیمه دَ جهلم دریاب پوري اول دَ بدهٔ مت دَکتورمن خاندان اوبیا دَ برهمن دَ هندوشاهیه ماتحت علاقه وَه. دَکتـورمن خاندان بادشاهت دَ غور، تخارستان راوسه قندوز، بُست، غزني، کابل. لغمان، کافرستان، (وه)، آټک او جهلم په علاقو قائم وو. دَ بدهٔ مت دَ کتورمن خاندان اخـیري بادشاه کانک وو. دَ کانک دَ زوال اَصلي مُحرّک دَ هغهٔ یو وزیر وو چي نوم یې کلر وو. دَ کلر په نوم اوس هُم دَ پنجاب په سیمه کلرکهار. یعنی دَکلر ښار) دَ سنسکرت کهـ دَ عربي فارسي (ښار) شهرت لري. دغه وزیر دومره بااثره اومضبوط وو چي کانک نه یې دوه ټول سُلطنت قبضه کړو. خو دې جنګ وجدل نتیجه دَ کتورمن بدهٔ شهنشاهیت دومره کمزور شو چي اَخیرکار بادشاهت دَ هندوشاهیه برهمن لا لیه قبضه کړو.

لاليه ۸۷۰ء تا ۸۹۲ء پوري دَ پښتونخوا بادشاه وو. حکومت یې کابل نه تر جهلم وو. او پایه تخت یې دریایې سِندهٔ

خپل ځائې ته واپس راشي. او د دواړو پېښتنو پښتانه به بېرته يو ځان ځيکرشي. د سوچ و فکر هم اهنګي. د نورو د اثرات نه د ژبې او کلچر ازادي. خپل روايات او پښتونونې زمونږ د وحدت بنيادي ضروريات او لوازمات دي. او هغه کمزوري، خودغرضي نفاق او جهالت ځان نه لرې کول دي چې خوشحال خان خټک په خپله شاعري کښې ټکو کرته په ګوتو کړي دي.

ه

پښتانه په نوره نشه دي ترمغلو کۀ په پوهه پښتانه وے څۀ هوښيار
هر څار د پښتانه ترمغل نشه دۀ اتفاق ورسره نشته دې ارمان
نن به در د هندوستان دولت د دوو پښتانه کۀ کم همت نۀ وے جهال
خدائے دې ورک د پښتنو کا دا دريو که
يو بد جهل، بل بد نيت، دريم نفاق

